DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

## تخار
## د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



په تخار ولایت کې د پاکو اوبو د سرچینو کموالي له امله داخلي بېځایه شوې کورنۍ د سطحي اوبو سرچینو څخه د ناپاکو اوبو څښلو ته اړ کېږي لکه دا کنده چې په خواجه غار ولسوالۍ کې دی. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماتیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کیدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه داډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څارې:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۶** ولسوالۍ وارزول شوې
**۴۸۵** کلي وارزول شول

**۳،۷۰۴**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۹۹،۶۱۱**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۶۵،۸۶۴**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۶۱،۱۳۵**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۰۹،۹۲۴**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۳،۳۴۰**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۱۲٪)

**۴۸۳**
راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي - بهارک ولسوالۍ تر ټولو زیاته اغیزمنه شوې ځکه چې د ۸۷٪ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو کوربه ده چې په خیمو کې ژوند کوي

**۵ څخه ۲**
د ټولو رارسېدلیو داخلي بېځایه شویو کسانو له ډلې ۴۳٪ کسان خواجه غار ولسوالۍ کې ژوند کوي

**۶ څخه ۱**
کس په تخار ولایت کې یا داخلي بېځایه شوی دی او یا هم راستنېدونکی (۱۴٪)

**۱۱،۶۵۹**
کسان په خواجه غار ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۲۴،۱۵۱**
کسان په خواجه غار ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۱۷،۷۷۸**
کسان په خواجه غار ولسوالۍ کې روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | مجموعي نفوس * | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + راسپدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | راسپدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تالقان | ۲۴۸,۸۳۰ | ۱۸,۲۸۱ | ٪۷ | ۱۳,۶۶۴ | ٪۵ | ۹۲۲ | ٪۰ | ۴,۶۱۷ | ٪۲ | ۰ | ٪۰ | ۱۸,۸۱۳ | ٪۸ |
| هزار سموچ | ۱۵,۰۱۳ | ۱,۳۹۳ | ٪۸ | ۱,۳۴۸ | ٪۸ | ۴۵ | ٪۰ | ۴۵ | ٪۰ | ۱۰ | ٪۰ | ۲,۲۶۷ | ٪۱۵ |
| بهارک | ۳۳,۷۴۶ | ۱۱,۶۰۳ | ٪۲۶ | ۵,۴۰۲ | ٪۱۲ | ۱,۸۵۰ | ٪۵ | ۶,۲۰۱ | ٪۱۴ | ۲,۲۳۶ | ٪۷ | ۳,۹۲۲ | ٪۱۲ |
| بنګی | ۳۸,۳۶۷ | ۱۴,۸۴۷ | ٪۲۸ | ۱۱,۱۸۷ | ٪۲۱ | ۲,۰۷۶ | ٪۵ | ۳,۶۶۰ | ٪۷ | ۱,۵۵۱ | ٪۴ | ۱۴,۶۰۷ | ٪۳۸ |
| نمک آب | ۱۳,۳۴۴ | ۳,۹۴۸ | ٪۲۳ | ۲,۴۶۰ | ٪۱۴ | ۴,۰۶۲ | ٪۳۰ | ۱,۴۸۸ | ٪۹ | ۳,۸۶۸ | ٪۲۹ | ۲,۵۶۶ | ٪۱۹ |
| فرخار | ۵۱,۱۹۸ | ۲,۵۶۴ | ٪۵ | ۲,۵۶۴ | ٪۵ | ۲۶۰ | ٪۱ | ۰ | ٪۰ | ۰ | ٪۰ | ۳,۹۱۵ | ٪۸ |
| کلفګان | ۳۸,۴۹۴ | ۸۹۵ | ٪۲ | ۷۷۷ | ٪۲ | ۱۳۰ | ٪۰ | ۱۱۸ | ٪۰ | ۸۰ | ٪۰ | ۱,۱۵۵ | ٪۳ |
| رستاق | ۱۷۹,۵۹۱ | ۸,۲۲۴ | ٪۴ | ۶,۶۵۷ | ٪۴ | ۴۸۵ | ٪۰ | ۱,۵۶۷ | ٪۱ | ۲۲۴ | ٪۰ | ۹,۷۳۶ | ٪۵ |
| چاه آب | ۸۶,۵۸۷ | ۳,۲۲۶ | ٪۴ | ۳,۱۵۶ | ٪۴ | ۷۰۰ | ٪۱ | ۷۰ | ٪۰ | ۲۴۵ | ٪۰ | ۴,۷۶۵ | ٪۶ |
| ینګی قلعه | ۴۸,۹۰۷ | ۴,۷۴۱ | ٪۹ | ۴,۰۴۴ | ٪۸ | ۱,۰۲۳ | ٪۲ | ۶۹۷ | ٪۱ | ۱,۴۹۳ | ٪۳ | ۴,۰۲۷ | ٪۸ |
| خواجه بهاوالدین | ۲۵,۴۰۶ | ۳,۳۸۵ | ٪۱۲ | ۲,۱۴۴ | ٪۷ | ۱,۲۱۵ | ٪۵ | ۱,۲۴۱ | ٪۴ | ۱,۰۳۵ | ٪۴ | ۲,۰۷۵ | ٪۸ |
| دشت قلعه | ۳۴,۹۰۲ | ۴,۶۶۶ | ٪۱۲ | ۳,۸۴۰ | ٪۱۰ | ۱,۰۱۶ | ٪۳ | ۸۲۶ | ٪۲ | ۱,۶۶۴ | ٪۵ | ۳,۶۱۴ | ٪۱۰ |
| خواجه غار | ۷۳,۴۲۶ | ۵۰,۴۴۱ | ٪۴۱ | ۲۲,۳۹۶ | ٪۱۸ | ۱۳,۷۴۴ | ٪۱۹ | ۲۸,۰۴۵ | ٪۲۳ | ۸۴,۲۷۶ | ٪۱۱۵ | ۱۲,۰۴۲ | ٪۱۶ |
| اشکمش | ۶۴,۴۱۵ | ۱۹,۰۴۵ | ٪۲۳ | ۱۳,۵۱۶ | ٪۱۶ | ۸,۸۷۴ | ٪۱۴ | ۵,۵۲۹ | ٪۷ | ۱۸,۲۰۰ | ٪۲۸ | ۱۹,۴۰۷ | ٪۳۰ |
| ورسج | ۴۱,۴۴۶ | ۳,۲۹۳ | ٪۷ | ۳,۲۹۳ | ٪۷ | ۱۴۴ | ٪۰ | ۰ | ٪۰ | ۰ | ٪۰ | ۴,۷۴۳ | ٪۱۱ |
| درقد | ۲۹,۳۸۴ | ۱۴,۹۲۳ | ٪۳۴ | ۳,۱۶۳ | ٪۷ | ۸,۲۶۰ | ٪۲۸ | ۱۱,۷۶۰ | ٪۲۷ | ۴۶,۲۵۳ | ٪۱۵۷ | ۲,۲۷۰ | ٪۸ |
| مجموعه | ۱,۰۵۳,۸۵۲ | ۱۶۵,۴۷۵ | ٪۱۴ | ۹۹,۶۱۱ | ٪۸ | ۴۴,۸۰۶ | ٪۴ | ۶۵,۸۶۴ | ٪۵ | ۱۶۱,۱۳۵ | ٪۱۵ | ۱۰۹,۹۲۴ | ٪۱۰ |

** د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري (NSIA) اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≤ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪

** په تخار ولایت کې د ۱۷ ولسوالیو له جملې یوازې ۱۶ ولسوالۍ د لاسرسۍ وړ وې او ارزول شوي دي نو ځکه د پورتنیو ۱۶ ولسوالیو مجموعه د تخار ولایت مجموعي نفوس سره چې په پورتني جدول کې لیکل شوی یوشان نده.



د زدکړې د لوړ لږښت تر څنګ د ښوونځیو د ودانیو کموالی د زدکړې پر وړاندې یو اړین خنډ بلل کېږي. دا هلکان او انجونې پرته له دې چې د زدکړې اړینو آسانتیاوو ته او ښوونیځو توکو ته لاسرسی ولري په آزاده فضأ کې یو ځای سره سبق وایي. © IOM ۲۰۱۸

## تګلار

د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځايه کېدنې تعقيب ده ترڅو وکولای شي د بېځايه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبيله وي ډلو، کوچيانو او نړيوالو کارګرانو د نفوس، موقعيت او جغرافياوي تقسيماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځايه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سيمې، د بېځايه کېدنې او راستنېدو مهال، بياځلي بېځايه کېدنه، د جمعيتونو شمېر، د زيانمنتيا کچه او اوليه اړتياوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د يوې سيمې د ارزونې لپاره د هماغې سيمې وګړي د سيمه ايزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کليدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ايزو بحثونو له لارې د کليو په کچه کميتي معلومات راټولوي. سيمه ايز کارکوونکي د مستقيمو کتنو له لارې هم د ژوند شرايط، لومړني خدمات، امنيت او ټولنيز-اقتصادي حالت په اړه کيفي معلومات راټولوي.

د امنيتي خطرونو له امله سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته سمارټ ټليفونونه يا ټابليټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د يوې کاغذي فورمې په وسيله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تاييد وشي او د ارزونې پروسه په ګړنديتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولايتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټيم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري تړې کتنه او تصويب وشي. کله چې دا فورمې تاييد شوې نو د موبايلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقيم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بيا دا ډېټا يا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفيه او تاييد کېږي. دا دقيقه بياکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کيفيت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په يو ولايت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات يا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کليو پېژندنه ده چې ترټولو زيات افغان وګړي ورته تللي او يا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعيتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کليو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پايلو پر بنسټ د راغليو او وتليو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعيتونو لپاره په هغو کليو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کليدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخيص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولايتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به يوازې د کليو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کليدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کليو په کچه معلومات له کليدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ايزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرايط او د څو سکټوريزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنيتي اندېښنو او يا د دولت د مخالفينو ډلو د بريدونو له امله، د DTM سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ايز بحثونه د کليو څخه بهر يا په خونديو سيمو کې ترسره کوي او يا هم ارزونې د موبايل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځينه کارکونکو له ګمارلو سره په ډله ايزو بحثونو کې د جنډر د شموليت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا يو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتيا شته. که څه هم په تخار ولايت کې د کليدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه يوازې ۹٪ يې ښځې دي خو دا شمېر د هېواد د کچې ښځينه کليدي معلومات ورکوونکو شمېر (۴٪) په پرتله پرمختګ ښيي.

**۳،۷۰۴**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۵۰۶**
کليدي معلومات ورکوونکي يا راستنيدونکي دي او يا هم داخلي بېځايه شوي (۱۴٪)

**۳۲۰**
ښځينه کليدي معلومات ورکوونکي (۹٪)

**۷۰۷**
له کوربه ټولنو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۱۹٪)


**۳،۳۸۴**
نارينه کليدي معلومات ورکوونکي (۹۱٪)

**۱،۰۶۵**
څو سکټوريزو او ټولنيزو خدماتو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۲۹٪)


**۷,۶**
په هرې ډله ايزې مرکې کې د کليدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۹۸۶**
له سيمه ايزو چارواکو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۲۷٪)

د ډول پر بنسټ کليدي معلومات ورکوونکي | تخار




د ډول او جنسيت پر بنسټ کليدي معلومات ورکوونکي | تخار



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته يې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او يا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ونيول شي چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه تخار ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۵۵٪ کموالی ښيي خو په ۲۰۱۷ کال کې ۲۳٪ زیاتوالی او په راتلونکي کال کې ۳۶٪ کموالی ښيي.

**۹۹،۶۱۱** بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

**۳۱،۷۷۹** پاکستان څخه راستنېدونکي (۳۲٪)


**۶۹،۲۱۴** له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۷۴٪)

**۶۱،۲۰۲** ایران څخه راستنېدونکي (۶۱٪)


**۲۳،۷۶۷** له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۲۶٪)

**۶،۶۳۰** غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۷٪)


بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | تخار





بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | کلنی بهیر | تخار





اروپا او ترکیه څخه راستنېدونکي | کلنی بهیر | تخار





ایران څخه راستنېدونکي | کلنی بهیر | تخار




پاکستان څخه راستنېدونکي | کلنی بهیر | تخار




د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | تخار



# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښنې او د طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړي شویو پېښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شوېو/ کورېنو تولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۶۵،۸۶۴**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان


**۹۳٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۲۸،۰۴۵**
خواجه غار ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر


**۷٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۱۲،۰۸۷**
داخلي بېځایه شوی په غیر رسمي سیمو کې مېشت دی (۱۸٪)


**۶۱٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي







# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)

تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) | تخار





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډيز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| خواجه غار | ۲۲,۳۹۶ | ۲۸,۰۴۵ | ۵۰,۴۴۱ |
| اشکمش | ۱۳,۵۱۶ | ۵,۵۲۹ | ۱۹,۰۴۵ |
| تالقان | ۱۳,۶۶۴ | ۴,۶۱۷ | ۱۸,۲۸۱ |
| درقد | ۳,۱۶۳ | ۱۱,۷۶۰ | ۱۴,۹۲۳ |
| بګي | ۱۱,۱۸۷ | ۳,۶۶۰ | ۱۴,۸۴۷ |
| بهارک | ۵,۴۰۲ | ۶,۲۰۱ | ۱۱,۶۰۳ |
| رستاق | ۶,۶۵۷ | ۱,۵۶۷ | ۸,۲۲۴ |
| ينګی قلعه | ۴,۰۴۴ | ۶۹۷ | ۴,۷۴۱ |
| دشت قلعه | ۳,۸۴۰ | ۸۲۶ | ۴,۶۶۶ |
| نمک آب | ۲,۴۶۰ | ۱,۴۸۸ | ۳,۹۴۸ |
| خواجه بهاوالدين | ۲,۱۴۴ | ۱,۲۴۱ | ۳,۳۸۵ |
| ورسج | ۳,۲۹۳ | ۰ | ۳,۲۹۳ |
| چاه آب | ۳,۱۵۶ | ۷۰ | ۳,۲۲۶ |
| فرخار | ۲,۵۶۴ | ۰ | ۲,۵۶۴ |
| هزار سموچ | ۱,۳۴۸ | ۴۵ | ۱,۳۹۳ |
| کلفګان | ۷۷۷ | ۱۱۸ | ۸۹۵ |
| عمومي مجموعه | ۹۹,۶۱۱ | ۶۵,۸۶۴ | ۱۶۵,۴۷۵ |


په عمومي توګه تخار ولايت له ټولټال ۱۶۵،۴۷۵ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي چې ۶۰٪ (۹۹،۶۱۱ کسان) راستنېدونکي او ۴۰٪ (۶۵،۸۶۴ کسان) داخلي بېځايه شوي دي. په لاندې جدول کې د تخار ولايت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زياتو بېځايه شويو او راستنېدونکو راتګ څخه اغيزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د تخار ولايت ۴۸۵ ارزول شويو کليو څخه ۴٪) د ټول ولايت ۲۵٪ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زيانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچينې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي. له دې ۲۰ زيانمنو کليو څخه ۹ کلي يې په خواجه غار ولسوالۍ کې موقعيت لري او د دې جدول ۵۷٪ (۲۳,۳۴۸) راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زيات راستنېدونکي او داخلی بېځايه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | زرد کمر | خواجه غار | ۶,۴۷۴ |
| ۲ | لب کوکچه | خواجه غار | ۴,۴۸۳ |
| ۳ | مرکز بهارک | بهارک | ۳,۱۴۶ |
| ۴ | وارز بچه | خواجه غار | ۳,۰۸۴ |
| ۵ | سپين دشت حاجی جمعه خان | خواجه غار | ۲,۸۰۹ |
| ۶ | ميده پته | درقد | ۲,۱۸۹ |
| ۷ | پوست خور (۱) | تالقان | ۲,۱۱۳ |
| ۸ | جو کدو بالا | خواجه غار | ۱,۶۵۰ |
| ۹ | درقد | درقد | ۱,۶۴۵ |
| ۱۰ | حاجي عبدالسلام | خواجه غار | ۱,۵۹۵ |
| ۱۱ | تالقان | تالقان | ۱,۵۱۶ |
| ۱۲ | شهر کهنه تالقان | تالقان | ۱,۳۴۵ |
| ۱۳ | کلف غني | درقد | ۱,۳۲۹ |
| ۱۴ | سرای سنګ | تالقان | ۱,۲۶۱ |
| ۱۵ | ارپلی | درقد | ۱,۲۲۱ |
| ۱۶ | جغتی | خواجه غار | ۱,۲۰۰ |
| ۱۷ | اق مسجد | بهارک | ۱,۰۹۷ |
| ۱۸ | قزلاتون | خواجه غار | ۱,۰۷۸ |
| ۱۹ | حاجي منجنيار | اشکمش | ۱,۰۰۹ |
| ۲۰ | حاجي خليل | خواجه غار | ۹۷۵ |
| | | مجموعه | ۴۱,۲۱۹ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې

دا هغه افغانان دي چې له يوې ارزول شوې سيمې څخه چې هلته يې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه يوې بلې سيمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب اندېښنې او طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړو شويو پېښو څخه خوندي ووسي.


**۴۴،۸۰۶** داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

**۷۷٪** په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي


**۸۲٪** د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۱۸٪** د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي

داخلي بېځايه شوي کسان چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي | کلنی بهير | تخار




د ولسوالۍ پر بنسټ داخلي بېځايه شوي کسان چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي | تخار




د هغو داخلي بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ ګانې چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان


راستانه شوي داخلي بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوې سیمې دي او پخوا یې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونړيتوب اندیښنې او طبیعي پیښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پیښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۱۶۱،۱۳۵**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي


**۹۱٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي

**۹۲٪**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان یوازې ۳ ولسوالیو ته راستانه شوي: خواجه غار، درقد او اشکمش

**۲ څخه ۴**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۵۲٪ کسان خواجه غار ولسوالۍ ته راستانه شوي



# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان


دا هغه افغانان دي چې لـه یوې ارزول شـوې سـیمې څخه د هـر دلیل، عامل او یا مـودې لپاره له هېـواد څخـه بهـر تلـلي او یـا کډوال شـوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښـتونکي، بېځایه شـوي کډوال او هغه کسـان شـاملیږي چې افغانسـتان یې د اقتصادي سـتونزو له امله پرېښـی وي.


**۱۰۹،۹۲۴**
د هېواد څخه بهر تللي دي


**۱۳،۳۴۰**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۱۲٪)


**۸۳،۳۴۷**
ایران ته تللي دي (۷۶٪)


**۱۲،۹۸۵**
پاکستان ته تللي دي (۱۲٪)




# سکتوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکتورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خواجه غار | ۵۰,۴۴۱ |
| ۲ | اشکمش | ۱۹,۰۴۵ |
| ۳ | تالقان | ۱۸,۲۸۱ |
| ۴ | درقد | ۱۴,۹۲۳ |
| ۵ | بنګي | ۱۴,۸۴۷ |
| | عمومي مجموعه | ۱۱۷,۵۳۷ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بهارک | ۴۲۰ |
| ۲ | اشکمش | ۶۳ |
| ۳ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۴۸۳ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خواجه غار | ۱۱,۶۵۹ |
| ۲ | اشکمش | ۵,۲۴۳ |
| ۳ | درقد | ۴,۶۳۴ |
| ۴ | بنګي | ۳,۲۹۶ |
| ۵ | بهارک | ۱,۴۴۱ |
| | عمومي مجموعه | ۲۶,۲۷۳ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیايي ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خواجه غار | ۱۷,۷۷۸ |
| ۲ | اشکمش | ۱۳,۴۶۱ |
| ۳ | درقد | ۹,۲۲۷ |
| ۴ | بنګي | ۶,۴۴۸ |
| ۵ | بهارک | ۴,۲۲۴ |
| | عمومي مجموعه | ۵۱,۱۳۸ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځی ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خواجه غار | ۶,۸۴۰ |
| ۲ | درقد | ۵,۱۳۶ |
| ۳ | بنګي | ۳,۰۹۸ |
| ۴ | اشکمش | ۱,۶۵۹ |
| ۵ | بهارک | ۱,۰۹۲ |
| | عمومي مجموعه | ۱۷,۸۲۵ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خواجه غار | ۲۴,۱۵۱ |
| ۲ | اشکمش | ۱۲,۳۷۴ |
| ۳ | درقد | ۶,۷۹۷ |
| ۴ | رستاق | ۵,۱۰۵ |
| ۵ | بنګي | ۵,۰۶۶ |
| | عمومي مجموعه | ۵۳,۴۹۳ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | تخار




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### یوه داخلي بېځایه شوې کورنۍ چې د مرستو غوښتونکې ده

عابده د ۷ ماشومانو مور ده چې ۳ هلکان او ۴ انجونې دي. هغه د کندز ولایت له دشت ارچی ولسوالۍ څخه ده. د هغې مشر زوی ۱۱ کلن دی او د هغې کشر زوی ۲ کلن دی. د هغې خاوند کله چې د ځایي پولیسو په لیکه کې دنده ترسره کوله د بلواګرو لخوا ووژل شو. د هغې د خاوند د مړینې وروسته د کندز ولایت امنیتی وضعیت هم مخ په خرابېدو شو نو ځکه هغه له خپلو ماشومانو سره د تخار ولایت دشت قلعه ولسوالۍ ته بېځایه شوه. له ۲۰۱۲ کاله را په دې خوا تخار ولایت د ۶۵،۸۶۴ رارسېدلیو داخلي بېځایه شویو کسانو کوربه دی.

"مونږ په دشت ارچي ولسوالي کې خپل کور درلوده. زه د کور مېرمن وم او خاوند مې د افغان ځایي پولیسو په لیکه کې دنده ترسره کوله. هغه د ورځې لخوا د بزګر په توګه کار کاوه او د شپې لخوا به یې د افسر په توګه کار کاوه. زه له خپلو ماشومانو سره بوخت وم، ډوډۍ به مې پخولې، غوا به مې لوشله، د څارویو لپاره به مې واښه تیارول او د کورنۍ لپاره به مې خواړه تیارول. زه خوشحاله وم او مونږ ښه ژوند درلوده."

هغه له خپلې کورنۍ سره د تخار ولایت د داخلي بېځایه شویو ځانګړي کورونو څخه یو کور ته ولاړه. هغه وایي چې دا کورونه دروازې او تشنابونه نلري. دا کورونه د شوروي د وخت کورونه دي او په وروستیو کې د دولت لخوا داخلي بېځایه شویو کسانو ته ځانګړي شوي دي. هغوی له بېلا بېلو سازمانونو څخه چې په سیمه کې فعال ول مرستې ترلاسه کولې خو دا مرستې د یو ښه ژوند درلودلو لپاره بسنه نکوي.

عابده ګله کوي چې له خپلو ډېرو ماشومانو سره په یوه کوټه کې ژوند کوي. کله چې هوا ګرمېږي نو حشرات، مار او موږکان د هغې کور کې لیدل کېږي. هغوی ته تر ټولو نږدې ښوونځی ۵ کیلومتره واټن لري. سربېره پر دې هغه باید ستونزمن کارونه ترسره کړي ترڅو وکولای شي له خپلې کورنۍ څخه ملاتړ وکړي. هغه بلوچي خامکي کالي جوړوي او په پایله کې یې د میاشتې له ۶۰۰ تر ۸۰۰ افغانۍ عاید کوي. که څه هم دا د هغوی د لږښتونو لپاره بسنه نکوي نو ځکه هغه له خپل اوښي څخه مرسته ترلاسه کوي.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.



وروسته له دې چې عابدې خپل خاوند له لاسه ورکړ هغه د کورنۍ یوازینۍ غړې ده چې د ۷ ماشومانو پاملرنه په غاړه لري. هغه په کافي توګه پیسې نشي پیدا کولای ترڅو هغوی ته خواړه چمتو کړي او دا هیله لري چې له بشردوستانه سازمانونو څخه مرسته ترلاسه کړي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړيوال ملاتړ ټيم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسايل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکيت، سيمه او يا هم د هغه د چارواکو او يا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړيوال سازمان له هېڅ نظر يا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړيوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زياتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړيکه کې شئ**

د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټيم سره په اړيکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada
MOFAT
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
Co-funded by the European Union
په همغږي سره